**د افغانستان اسلامي امارت**
**د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت**
**د دفتر عمومي رياست**

# د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پاليسي

۱۴۰۴هـ ش/ ۱۴۴۶هـ ق

## سریزه

**الحمد لله رب العالمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین.**

د هېواد اقتصاد له ډېر پخوا راهیسې پر بهرنیو مرستو متکي دی. دغه تړاو په وروستیو دوه لسیزو کې اوج ته رسېدلی و، چې د نړیوالې ټولنې د مرستو د بندېدو له امله کورني نا خالص تولیدات له (۲۱) سلنه کمښت سره مخ شول. سربېره پر دې، نړیوالو بندیزونو او د افغانستان څه د پاسه (۷) میلیارد ډالره ارزي شتمنۍ کنګل کېدل هېواد له بې سارو ننګونو سره مخ کړ. که څه هم د افغانستان اسلامي امارت د دغو ننګونو د رفع کولو لپاره ارزښتناک ګامونه اخیستي دي، خو اوس هم هېواد د کمزورې زېربنا، بېوزلۍ، بېکارۍ، وچکالۍ او مالي او بانکي محدودیتونو له امله د ډېرو ستونزو سره مخ دی.

دا په داسې حال کې ده چې د اقتصادي وضعیت د ښه والي او په دغه لار کې شته ننګونو د لمنځه وړلو لپاره د امارتي ادارو او خصوصي سکتور ښې همکارۍ، د پانګونې لپاره د ور چاپېریال رامنځته کولو، د څېړنو او نوښتونو هڅولو او د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د دوه اړخیزو او څو اړخیزو همکاریو پراختیا ته اړتیا ده.

دا پالیسي به دولتي ادارو ته د دې وړتیا ورکړي چې اقتصادي موخو ته د رسېدو په لار کې داسې همغږې پالیسۍ، پلانونه او برنامې طرحه او پلي کړي، چې د هېوادوالو هوساینه او سوکالي ډاډمنه کړي. د افغانستان اسلامي امارت د هېواد اقتصادي پالېسي د SWOT او PESTEL تحلیلي مېتودونو څخه په ګټې اخیستنې، د شرعي احکامو او ارزښتونو او د هېواد د سیاسي، اقتصادي او ټولنیز وضعیت په پام کې نیولو سره ترتیب کړې ده.

دغه پالېسي د نظام د اقتصادي لیدلورې، موخو، لومړیتوبونو او تګلارو ښکارندویي کوي او د هېواد اقتصاد ته داسې تګ‌لوری ټاکي، چې په هغه کې خصوصي سکتور د نظام ترڅنګ د اقتصادي پراختیا او د وګړو د سوکالۍ په لار کې فعاله ونډه لري. دغه سند په درې عمده موخو یعنې اقتصادي ثبات، پایداره اقتصادي پراختیا او وده، د سوکالۍ تامین او ټولنیز عدالت وېشل شوی او له ملي سرچینو څخه په اغېزمنې ګټې اخیستنې سره د هېواد اقتصادي موخو ته د رسېدو لپاره یو جامع او هراړخیز لارښود دی.

د افغانستان اسلامي امارت
Islamic Emirate of Afghanistan
Economic Commission

## ۵. اهمیت او اړتیا

اقتصادي پالیسي د هېوادونو د اقتصادي فعالیتونو د مسیر ټاکونکې ده او د هېواد د اقتصادي ودې او دوامداره پراختیا په موخه یو له بنسټیزو ابزارو څخه ګڼل کېږي. اقتصادي پالیسي د پانګونې، د بېکارۍ د کچې ټیټولو او اقتصادي ثبات لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کولو او ټولنیزې نابرابرۍ کمولو په برخه کې مرسته کوي او د منابعو څخه غوره ګټه اخیستنه او د اقتصادي فعالیتونو اغېزمنتوب لوړوي.

همدارنګه اقتصادي پالیسي د مالي چارو په تنظیم او د حکومت د عوایدو په غوره مدیریت کې مرسته کوي، د دې پالیسۍ له مخې حکومت د ټولنیز خوندیتوب برنامې، د شتمنۍ وېش او د اقتصادي فرصتونو له لارې متوازنه اقتصادي پرمختیا رامنځته کوي.

له بلې خوا اقتصادي پالیسي د هېواد اقتصادي لیدلورۍ، اهداف، لومړیتوبونه او تګلارې ټاکي، د عامه او خصوصي سکتور او د ټولنې د ټولو قشرونو اقتصادي ګټې تضمینوي او په هېواد کې اقتصادي او ټولنیزه رفاه رامنځته کوي. له دې کبله د افغانستان اسلامي امارت له شته سرچینو او امکاناتو څخه د پایدارې او اغېزمنې ګټې اخیستنې په موخه د هېواد د عیني شرایطو په پام کې نیولو سره د یوې واحدې پالېسۍ په چوکاټ کې د هېواد د بنسټیزو اقتصادي تګلارو پر ټاکلو اقدام کړی؛ څو د اسلامي او ملي ارزښتونو په پام کې نیولو سره هېواد ته اقتصادي او ټولنیزه سوکالي ور په برخه کړي.

دغه سند د یو جامع لارښود په توګه له ټولو وزارتونو، مستقلو ادارو او خصوصي سکتور سره مرسته کوي چې د دې په رڼا کې خپلې بنسټیزې اقتصادي تګلارې او فعالیتونه تعریف او وټاکي او د هېواد د اقتصادي ودې او پراختیا په بهیر کې اغېزمن ګامونه واخلي.

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت
Islamic Emirate of Afghanistan
Economic Commission

په تېرو کلونو کې د افغانستان اسلامي امارت د عامه مالي اغېزمنتیا تامین، د عوایدو په راټولولو کې د روڼتیا، له اداري فساد سره د مبارزې، د مرکزي او سویلي آسیا ترمنځ د نښلوونکي پل په توګه د هېواد د ستراتېژیک موقعیت څخه د اغېزمنې ګټه اخیستنې، د سوداګرۍ او ترانزیټ د پراختیا په موخه د زېربناوو ایجاد او بیا رغونې، د کسب او کار ښه چاپېریال او د هېواد له کانونو څخه د ګټې اخیستنې په برخه کې لازم ګامونه پورته کړي دي. ددې اقداماتو په پایله کې نه یوازې د هېواد اقتصادي او ټولنیز وضعیت ښه شوی، بلکې له داخلي سرچینو څخه د ملي بودجې د تمویل، د پانګونې جذب، د صادراتو زیاتوالي، د سوداګرۍ د بیلانس د کسر ټیټېدلو، د اقتصادي ثبات او د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو د بیې ساتلو او د ناخالصو داخلي تولیداتو د کچې لوړوالي د راتلونکي په اړه د هېوادوالو هیلې راټوکولي دي.

د بیلګې په توګه د اسلامي امارت د اقداماتو په پایله کې د دریو کلونو څخه په کمه موده کې بهرنۍ پانګونه (۲۰) سلنه زیاته شوې، سلګونه کیلومیټره سړکونه پاخه او پراخه شوي، په صادراتو کې (۰.۱) سلنه زیاتوالی راغلی، په ۱۴۰۲ هـ ش کال[۳] کې نسبت ۱۴۰۱ هـ ش کال[٤] ته د کانونو عواید (۴۰.۸) سلنه زیات شوي ، (٦.۵) میلیارد ډالره پانګونه جذب شوې[۵] او په ټوله کې ناخالص کورني تولیدات (۲.۷) سلنه لوړ شوي دي.[٦]

له پورتني تحلیل څخه دا پایله ترلاسه کېږي، چې د تېرو دریو کلونو د لاسته راوړنو سره سره بیا هم د افغانستان اقتصاد د پایدارې پرمختیا په برخه کې له ګڼ شمېر ننګونو سره مخ دی. څرنګه چې له بالقوه فرصتونو څخه ګټه اخیستنه، د قوت په ټکو اتکاء، د ضعف د ټکو د اصلاح لپاره د اغېزمنو تګلارو کارول، د اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي ګواښونو د اغېزو راکمول او د سرچینو اغېزمن او سم مدیریت د هېواد د پرمختګ کلیدي عوامل بلل کېږي، د افغانستان اسلامي امارت د عیني شرایطو په پام کې نیولو سره خپله اقتصادي پالیسي چې پر ملي سرچینو ولاړ یو خوځنده او پرمختللي اقتصاد او د خصوصي سکتور ملاتړ ته لاره هواروي، تدوین کړې ده. دا سند به د یوې ټولیزې پالیسۍ په توګه د اسلامي امارت د اقتصادي لیدلورې، موخو او تګلارو په بیانولو سره د هېواد اقتصادي ودې او پرمختګ ته لاره هواره کړي.

## ۲. د پالیسۍ شرحه

د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي چارو د اغېزمنې رهبرۍ او مدیریت په موخه د هېواد عیني شرایطو، شرعي احکامو، بالقوه سرچینو او ستراتیژیک موقعیت ته په کتو سره دا اقتصادي پالیسي، چې پر ځانګړو اهدافو متمرکزه ده، ترتیب کړې ده چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

---

[۳] NSIA, ۱۴۰۲

[٤] سالنامه تجارت سال ۱۴۰۱

[۵] ... ۱۴۰۲

[٦] سالنامه احصائیوی ۱۴۰۲

افغانستان اسلامي امارت د قانون د حاکمیت د پیاوړتیا، د پانګوالو د ملکیت د حقونو د ساتنې، د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د سالمو او اغېزمنو سیاسي او اقتصادي اړیکو او همکاریو د رامنځته کولو او پراختیا په برخه کې د هېواد د سیاسي ثبات د پیاوړتیا لپاره لازم اقدامات ترسره کوي.

## ۲,۱,۲. د امارتي ادارو د کړنو اصلاح او پیاوړتیا

مسلکي او کارنده امارتي بنسټونه د مراجعینو له غوښتنې سره سم د حکومت د غوره او پر وخت چوپړ د چمتو کولو لپاره اړین شرط دی، چې د خلکو هوساینه او سوکالي تامینوي او د عامه رضایت کچه لوړوي. دغه راز، پیاوړې ادارې د ودې او پراختیا پروسه ګړندۍ کوي. په داسې حال کې چې کمزورې او ناکاره ادارې اداري فساد، بې ثباتي او ټولنیزه نابرابري رامنځته کوي او د خلکو د رضایت کچه راټیټوي، چې د هېوادونو د وروسته والي لامل ګرځي.

د تېرو څو لسیزو تجربو له دې تریخ حقیقت څخه پرده پورته کړې ده، چې افغانستان د ښه جغرافیایي او ستراتیژیک موقعیت او بډایه طبیعي سرچینو سره سره، په بیلابیلو اقتصادي او ټولنیزو برخو کې د پام وړ وده او پراختیا نه ده کړې؛ چې د دولتي ادارو ناکاره او کمزورې فعالیت یې له اصلي عواملو څخه ګڼل کېږي. د دې حقیقت په درک سره، د افغانستان اسلامي امارت د خپلې بیاځل واکمنۍ له پیل راهیسې د امارتي ادارو د فعالیت په اصلاح او پیاوړتیا کې د پام وړ پرمختګ کړی دی؛ خو لا هم پایدارې اقتصادي پراختیا ته د رسیدو او د هېوادوالو د اقتصادي هوساینې د تامین لپاره د ځانګړو پالیسیو اغېزمن تطبیق لپاره اوږده لاره په مخکې لري. د اغېزمنو، مسلکي، ځواب ویونکو ادارو او د غوره چوپړ د وړاندې کولو لپاره د افغانستان اسلامي امارت لیدلورې په لاندې اقداماتو تمرکز کوي:

- **د امارتي کارکوونکو د وړتیا لوړول**: د غوره عامه خدماتو وړاندې کول، د اصلاحاتو راوستل او ساتل، د پانګونې جذب لپاره د زمینې برابرول، د اقتصادي ودې او پراختیا تضمینول او په هېواد کې د بې وزلۍ راکمول د امارتي ادارو د کارمندانو په ظرفیت او وړتیا پورې اړه لري. د اسلامي امارت پالیسي په دې برخه کې، د دندو ماهیت او د بیلابیلو ادارو اړتیاوو ته په پام سره، د ټولو امارتي کارمندانو د وړتیا او مهارتونو لوړولو لپاره د کافي منابعو تخصیص او د روزنیزو برنامو پیل کول دي؛ ترڅو ټولې امارتي ادارې وکولی شي په هېواد کې د اقتصادي او ټولنیزې ودې او پراختیا په برخه کې خپله ونډه په ښه توګه ترسره کړي.

د افغانستان اسلامي امارت ژمن دی چې د کارمندانو د مسلکي پوهې د لوړولو لپاره د هېواد دننه او بهر د ټولو امارتي کارمندانو لپاره حضوري او غیر حضوري روزنیز پروګرامونه پیل کړي، د ټولو امارتي کارمندانو د علمي او مسلکي ظرفیت لوړولو فرهنګ ته وده ورکړي او په دې برخه کې له بیلابیلو نهادونو او ملګرو هېوادونو سره همکارۍ ته دوام ورکړي.

د افغانستان اسلامي امارت
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

### ۲,۱,۳. د بیو استقرار او د انفلاسیون کنټرول

د بیو استقرار او د انفلاسیون کنټرول په هېوادونو کې د اقتصادي ثبات مهم او ټاکونکي عوامل دي، چې د پانګونې د هڅونې، د کاري فرصتونو په رامنځته کولو او د تادیاتو په بیلانس کې د توازن او بالاخره د اقتصادي پراختیا لامل ګرځي. د بیو استقرار د اقتصادي ډګر له فعالانو سره مرسته کوي، چې آګاهانه پریکړې وکړي. له بلې خوا د بیو بې ثباتي پر پانګونې منفي اغېز لري او په هېواد کې د ودې او اقتصادي پراختیا د کچې د راټیټېدو لامل ګرځي.
که څه هم د افغانستان اسلامي امارت د کره او سنجول شویو پالیسیو په پلي کولو سره توانېدلی دی چې د بیو د استقرار په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې ولري. سربېره پر دې، د انفلاسیون د کچې د کنټرول او د بیو د استقرار لپاره لاندې اقدامات په مسلسله توګه ترسره کوي:

- د انقباضي او انبساطي پولي سیاستونو کارول؛
- د انقباضي او انبساطي مالي سیاستونو کارول.

### ۲,۱,٤. د اسعارو د بیو او د بانکي او مالي چارو مدیریت

د تبادلې نرخ د هېوادونو ترمنځ د اقتصادي راکړې ورکړې په بهیر او د هغوی د ګټو د کچې په ټاکلو کې اساسي ونډه لري. له همدې امله، هېوادونه هڅه کوي چې د پیاوړو بهرنیو اسعارو پر وړاندې د خپل ملي پولي واحد د تبادلې نرخ په داسې ډول مدیریت او وټاکي، چې له بهرنیو هېوادونو سره له اقتصادي راکړې ورکړې څخه اعظمي ګټه ترلاسه کړي. هېوادونه، په عین حال کې، د اسعارو د پالیسۍ په پلي کولو سره هڅه کوي چې پر ملي اقتصاد او د هېوادوالو پر هوساینه د تبادلې په نرخ کې د ناغوښتل شویو بدلونونو اغېزې راکمې کړي. د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت ثبات د داخلي او بهرنیو پانګوالو او د اقتصادي ډګر فعالانو ته د راتلونکې په اړه د وړاندوینې لپاره له اصلي او بنسټیزو عواملو څخه دی. د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت د ساتلو په برخه کې د افغانستان اسلامي امارت لاندې اقدامات ترسره کوي:

- د اسعارو مدیریت شوي بدلېدونکي رژیم په کار اچول؛
- د هېواد له اقتصادي ودې سره سم د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو د ارزښت انډول ساتل؛
- د بهرنیو اسعارو په بازار کې د شدیدو نوسانونو مخنیوی او کنټرول؛
- د ناڅاپي اقتصادي شاکونو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت پیاوړتیا؛
- د اسعارو د قاچاق او د پیسو وینځلو مخنیوی.

ترلاسه کړي، چې د خپلو اقتصادي فعالیتونو د پیاوړتیا او پراختیا لپاره یې اغېزمنې ستراتیژیانې، پالیسیانې، برنامې او اړوند اقدامات په لاره اچولي دي.

روښانه ده، چې اقتصادي وده او پراختیا هم مهاله او ژر نه ترلاسه کېږي؛ بناً یو لړ جامع او اساسي کړنو ته اړتیا ده، ترڅو په تدریجي توگه یاده موخه ترلاسه شي. د افغانستان اسلامي امارت تل په دې هڅه کې دی، چې د ستراتیژیکو موخو په چوکاټ کې د اغېزمنو پالیسیو په طرحه او تطبیق سره د هېواد اقتصاد د ودې او پراختیا په لور سوق کړي او د خلکو په اقتصادي وضعیت کې ښه والی راولي.

اسلامي امارت د خپلو نه ستړې کېدونکو هلو ځلو په دوام ژمن دی، چې د هېواد د پایدارې اقتصادي پراختیا او ودې د ښه والي لپاره د پولي، مالي او ساختاري سیاستونو څخه په اغېزمنې گټې اخیستنې سره بنسټیز گامونه پورته کړي؛ ترڅو د اقتصادي سکتورونو د پرمختیا، د پانگونې د جلب او جذب او د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د سالمو اقتصادي اړیکو د ټینگښت سبب وگرځي. په دې برخه کې اسلامي امارت لاندې اقدامات ترسره کوي:

### ۲،۲،۱. د زېربناوو تاسیس او پراختیا

د هېوادونو د ودې او پراختیا په بهیر کې معیاري او کافي زېربناوې یو اغېزمن او ټاکونکی عامل گڼل کېږي؛ اقتصادي پراختیا تر ډېره د زېربناوو په ظرفیت او شتون پورې اړه لري. د دغو زېربناوو کیفیت او اغېزمنتوب د هېوادونو د سوداگریزو او اقتصادي فعالیتونو پر تداوم، د ژوند پر کیفیت او اجتماعي سلامتیا باندې ژور اغېز لري. د هېوادونو د پرمختیا لپاره په مختلفو برخو په ځانگړې توگه د زېربناوو په برخه کې پانگونې ته ډېره اړتیا لیدل کېږي.

د زېربناوو په برخه کې پانگونه د اقتصادي ودې او پراختیا د بهیر د چټکتیا سبب گرځي او اقتصادي رفاه رامنځته کوي. په تېرو څو لسیزو کې د یو شمېر عواملو له مخې نه یوازې دا چې د هېواد زېربناء پراختیا نه ده کړې، بلکې زیاتره زېربناوې زیانمنې او یا له منځه تللې دي؛ چې دا د وروسته پاتې والي، د ثبات نشتون، د پانگونې لپاره د نامناسبې فضا، د تولیداتو د کموالي او د بیکارۍ او بې وزلۍ د زیاتوالي سبب شوي دي. د زېربناوو د ایجاد او پراختیا په برخه کې اسلامي امارت لاندې اقدامات ترسره کوي:

- د هېواد د زېربناوو د تأسیس او پراختیا په موخه د پالیسیو او برنامو طرحه او تطبیق؛
- د زېربنایي چارو د تنظیم په برخه کې د قوانینو او مقرراتو وضع کول او د زېربناوو ساتنه؛
- د زېربناوو د تأسیس په موخه د هېواد د انکشافي بودجې د تخصیص زیاتوالی؛
- د زېربناوو په برخه کې د خصوصي سکتور د پانگونو څخه ملاتړ او د هغوی لپاره د اسانتیاوو برابرول؛
- د زېربناوو د تأسیس او پراختیا په موخه د اسلامي اقتصاد د معاصرو تمویلي روشونو څخه پراخه گټه اخیستنه؛

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

- د زېربناوو او د پايداره انرژۍ سکتور د ودې او پراختيا په موخه د کورنيو او بهرنيو پانګونو بسيج او ملاتړ؛
- د انرژۍ سکتور په مختلفو برخو کې د متخصصو کادرونو روزل او ظرفيت لوړونه؛
- د برېښنا انرژۍ د مصؤونيت تامين په ځانګړې توګه د هېواد د توليدي صنايعو په برخه کې؛
- د انرژۍ خدماتو وړاندې کولو په برخه کې اغېزمنتيا زياتول او له نوښتونو څخه ملاتړ؛
- د چاپيريال ساتنې معيارونو ته په پام د انرژۍ سرچينو څخه د اغېزمنې ګټې اخيستنې د فرهنګ ترويج.

### ۲،۲،۳. د کرنې پرمختيا

افغانستان يو کرنيز هېواد دی، چې نېږدې ۷۵ سلنه وګړي يې په مستقيمه او غير مستقيمه توګه په کرنې او مالدارۍ بوخت دي؛ په دې توګه د کرنې دوديز سکتور په کار موندنه کې تر ټولو زياته برخه لري.
د افغانستان د مجموعي ځمکې نېږدې ۱۲ سلنه د کرنې وړ ده؛ چې اوس مهال يې يوازې ٦ سلنه تر کرنې لاندې ده[۷]. چې د هېواد ۳۳،۷ سلنه ناخالص داخلي توليد د کرنې له سکتور څخه لاسته راځي.
په اوسنيو شرايطو کې چې افغانستان د زيانو اقتصادي ستونزو سره مخ دی، د کرنې سکتور ميکانيزه کول کولی شي، چې د هېواد د اقتصاد په پياوړتيا کې کليدي رول ولوبوي او همدارنګه د هېواد د نويو صنايعو لپاره پانګه او خام مواد برابر کړي.
دا چې د کرنې سکتور د افغانستان د اقتصاد يوه عمده او اساسي برخه ده، د دغه سکتور د پرمختيا او د بزګرانو څخه د ملاتړ په برخه کې د افغانستان اسلامي امارت لاندې اقدامات ترسره کوي:

- د هېواد د اړتياوو سره سم د مالدارۍ او کرنيزو برنامو او پاليسيو طرحه او تطبيق؛
- د اړونده زېربناء د پراختيا او د کرنې ميکانيزه کولو په برخه کې د پانګونې زياتول؛
- د هېواد د کرنې او مالدارۍ سکتور د اغېزمنتوب په موخه له څېړنو او نوښتونو څخه ملاتړ؛
- د مالدارۍ او کرنيزو محصولاتو د تمام شويو قيمتونو د ټيټولو په موخه د بلاعوضه مرستو او مشوقونو وړاندې کول؛
- اړوند بازار ته د لاس رسي په موخه له بزګرانو څخه ملاتړ او د حيواني او کرنيزو محصولاتو د صادرولو او د نوې ټکنالوژۍ د توريد په بهير کې تسهيلات راوستل؛
- د کرنې پرمختيايي بانک او له بزګرانو څخه د ملاتړ صندوق رامنځته کول؛
- د معياري سرو خونو رغونه او جوړول؛

[۷] (Bank, World Development Indicators, ۲۰۲۱)

د افغانستان اسلامي امارت
د رئیس الوزرا اقتصادي معاونیت
Economic Commission
Islamic Emirate of Afghanistan

- د چاپېریال ساتنې معیارونو رعایتول او د کاني سرچینو څخه پایداره ګټه اخیستنه.

## ۲،۲،۵. د صنعت پراختیا

په ننني نړۍ کې چې هېوادونه یو له بل سره تړلي او په چټکۍ سره د بدلون په حال کې دي، صنعتی کېدل د هېواد په اقتصادي پراختیا، د نوښتونو په تقویت او د بېوزلۍ په کمولو کې ډېر مهم رول لوبوي. د صنعت پراختیا؛ د هېوادونو د اقتصادي ودې، د کاري فرصتونو رامنځته کولو، د پانګونې تشویق او د اقتصادي تنوع په برخه کې د یو کلیدي عامل په توګه پېژندل کېږي. سربېره پر دې، د صنعت پراختیا هېوادونه په دې توانوي، چې د ټکنالوژیکي پرمختګونو او نوښتونو څخه د نورو سکتورونو په پیاوړتیا کې اعظمي ګټه پورته کړي. تر ټولو مهمه دا چې د صنعت پراختیا پر یو واحد اقتصادي سکتور د تکیې کمولو او د اقتصادي تنوع په ترویجولو سره هېوادونه د اقتصادي پایښت او انعطاف څخه برخمن کوي او د اقتصادي نوسانونو په ښه مدیریت کې اساسي رول لوبوي.

تېرو لسیزو جګړو، د اقتصادي زېربناوو له منځه تلل، د نړیوالو مرستو او داخلي سرچینو ناسم مدیریت، د فساد شتون، داخلي تولیداتو ته د تېرو حکومتونو کمه توجه او د سیمې او نړۍ د هېوادونو پر محصولاتو او تولیداتو باندې له حد نه زیاته تکیه، د هېواد اقتصاد په یو وارداتي اقتصاد تبدیل کړی او یاد عوامل د دې سبب شوي، چې د صنعت سکتور په افغانستان کې په اولیه او دودیز شکل پاتې شي. د دې واقعیت او د نړۍ نورو هېوادونو اړوند تجربو په نظر کې نیولو سره اسلامي امارت لاندې اقدامات د صنعت سکتور د پراختیا په موخه ترسره کوي:

- د صنعت سکتور د ودې او پراختیا لپاره د مناسبې فضا رامنځته کولو په موخه د پالیسیو او برنامو طرحه او تطبیق؛
- د صنعتي زونونو او سیمو پراختیا او د صنعت د ودې او پراختیا په موخه د هغو څخه سمه ګټه اخیستنه؛
- د بازار د غوښتنې مطابق د بشري سرچینو ظرفیت لوړونه؛
- په هېواد کې د ملي او نړیوالو معیارونو سره سم د طبیعي سرچینو څخه ګټه اخیستنه او د خامو موادو د پروسس د بهیر څخه ملاتړ؛
- د کرنیزو او حیواني محصولاتو د ځنځیري ارزښت پراختیا او پیاوړتیا؛
- د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو او لاسي صنایعو څخه ملاتړ؛
- د انحصاري بازارونو څخه د مخنیوي په موخه د رقابتي سیاستونو پلي کول؛
- کورنیو او بهرنیو پانګه اچوونکو لپاره د اړتیا وړ مرستې، اوبو، انرژۍ او پانګې ته د لاسرسي بهیر آسانه کول؛
- د ملي صنایعو د پراختیا په موخه د څېړنو او نوښتونو څخه ملاتړ؛

د افغانستان اسلامي امارت
د رئیس الوزرا اقتصادي معاونت
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

### ۲,۲,۷. د مواصلاتو او تکنالوژۍ پرمختیا

افغانستان د جغرافیوي موقعیت له مخې د ارتباطي پل په توګه د مرکزي، جنوبي او غربي آسیا هېوادونه یو له بل سره نښلوي. له دې موقعیت څخه مطلوبه ګټه اخیستنه کولی شي، چې د سیمه ییز اقتصاد په پیاوړتیا، او د هېواد د تولیدي او کرنیزو محصولاتو لپاره په سیمه او نړۍ کې د بازارونو د رامنځته کولو په برخه کې مهم رول ولوبوي.
تکنالوژي د اقتصادي ودې او پراختیا په برخه کې اساسي او محوري نقش لري؛ مکاني او زماني فاصلې را کموي او د اقتصادي او سوداګریزو معاملو په برخه کې ګړندیتوب رامنځته کوي.
دا چې افغانستان د اطلاعاتو او مخابراتو د څلور لارې په توګه د سیمې هېوادونه یو له بل سره نښلوي، نو د افغانستان اسلامي امارت په ټولو برخو په ځانګړې توګه د هېواد د اقتصادي ودې او پراختیا په برخه کې د مواصلاتو او تکنالوژۍ اهمیت ته په کتو لاندې اقدامات ترسره کوي:

- په هېواد کې د مواصلاتو او تکنالوژۍ د پراختیایي چارو د تنظیم په موخه د پالیسیو او برنامو طرحه او تطبیق؛
- د کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ د تسهیل په موخه د حمل او نقل او ترانزیټ په برخو کې د نویو معیارونو او سیستمونو د رامنځته کولو لپاره د مناسب بستر رامنځته کول؛
- د هېواد د ودې او پراختیا د بهیر د پیاوړتیا په موخه د مواصلاتي او تکنالوژیکي زېربناوو تأسیس او پراختیا؛
- د مواصلاتو او مخابراتو په برخه کې د ملي او نړیوالو پانګونو د جلب او جذب په موخه د مناسبې فضا رامنځته کول؛
- په ترانزیټي، مواصلاتي او مخابراتي چارو کې د اسانتیا لپاره د سیمې او نړۍ سره د اړیکو او همکاریو ټینګښت او پراختیا؛
- د سیمې او نړۍ هېوادونو ته د صنعتي او کرنیزو محصولاتو د لېږد په موخه د اوسپنې پټلۍ، جاده یي ترانسپورټ او هوایي دهلېزونو رامنځته کول او پراختیا؛
- په هېواد کې د اقتصادي، صنعتي، کرنیزو او علمي مراکزو د نښلولو لپاره د مواصلاتو او تکنالوژۍ پراختیا؛
- د مواصلاتو او تکنالوژۍ په برخه کې د باکیفیته او معیاري خدماتو وړاندې کول.

### ۲,۲,۸. د پانګونو جذب او ملاتړ

پانګونه په هېوادونو کې د اقتصادي ودې او پراختیا، د تولید له عواملو څخه د اغېزمنې ګټه اخیستنې، کارموندنې او د بې وزلۍ سطحې د کمولو اساسي عامل ګڼل کېږي. همدارنګه پانګونه په مختلفو برخو په ځانګړې توګه په زېربنایي

## ۲,۲,۹. د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو او همکاریو ټینګښت او پراختیا

نړۍ نن ورځ د ټکنالوژۍ په پرمختګ او د علم په پراختیا سره په یو کوچني کلي بدله شوې، چې هره برخه یې پر بلې برخې اغېزې لري، اقتصاد هم له دې امر څخه مستثنی نه دی. د نړۍ هېوادونه د خپلو اړتیاوو د رفع کولو په موخه د مطلق او نسبي مزیت د اصل په پام کې نیولو سره خپل اقتصادي فعالیتونه پلانوي او اقتصادي تعاملات ترسره کوي. په دې برخه کې سیمه ییز او نړیوال سازمانونه له خورا زیات ارزښت څخه برخمن دي. ځکه چې یاد سازمانونه له ورته موخو لرونکو هېوادونو څخه د اړیکو د ټینګښت، اغېزمنو همکاریو، اقتصادي او سوداګریزو فعالیتونو په موخه رامنځ ته کېږي.

افغانستان، د اسلامي شریعت د ارزښتونو په پام کې نیولو سره د اقتصادي ثبات، ودې او پراختیا په موخه د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د حسنه اړیکو او اقتصادي همکاریو پیاوړتیا ته لیوال او ژمن دی. اړیکې او همکاري نه یوازې دا چې د بهرنۍ پانګونې لپاره د مناسب چاپېریال د رامنځ ته کېدو سبب ګرځي؛ بلکې د سوداګرۍ د پراختیا، ټکنالوژۍ د انتقال او د پوهې د تبادلې په موخه هم حیاتي نقش لري. له ګاونډیو او د نړۍ له هېوادونو سره د فعالو او هدفمندو اړیکو په اساس افغانستان کولای شي، چې نویو بازارونو ته لاسرسی پیدا کړي، د هېواد اقتصاد ته تنوع ورکړي او د نړیوالو تجربو څخه د ودې او پراختیا په لار کې د ننګونو د رفع کولو لپاره اعظمي ګټه پورته کړي.

افغانستان د یو مستقل او آزاد هېواد په توګه د سیمې او نړۍ له هېوادونو او سازمانونو سره د سالمو او هدفمندو اړیکو او همکاریو په ځانګړې توګه د اقتصادي او سوداګریزو فعالیتونو په برخه کې، د ټینګښت او پراختیا په هڅه کې دی. په دې برخه کې اسلامي امارت لاندې اقدامات تر سره کوي:

- د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د اغېزمنو اقتصادي اړیکو او همکاریو د تامین په موخه د پالیسیو او برنامو طرحه او تطبیق؛
- د اسلامي شریعت ارزښتونو او ملي ګټو ته په پام د سیمې او نړۍ له هېوادونو او سازمانونو سره د اقتصادي همکاریو او اړیکو ټینګښت او پراختیا؛
- د سوداګرۍ او ترانزیت په بهیر کې د چټکتیا په موخه د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د نویو تفاهم لیکونو او قراردادونو عقد؛
- د سیمه ییز او نړیوال جاده ای او هوایي حمل و نقل په برخه کې ګډې همکارۍ؛
- د سیمې او نړۍ بازارونو ته د هېواد د محصولاتو او تولیداتو د لاسرسي په موخه د اړیکو او همکاریو پیاوړتیا؛
- د ملي ګټو په پام کې نیولو سره په سیمه ییزو او نړیوالو اړوند سازمانونو کې د غړیتوب تر لاسه کولو لپاره اړینې هڅې کول؛
- د اقتصادي دهلیزونو له لارې د سیمه ییز او نړیوال اتصال پیاوړتیا او پراختیا؛

- د هېواد ملي ګټو ته په پام د اقتصاد محوره بهرنيو سياستونو څخه ملاتړ؛
- هېواد ته د پانګې، پوهې او ټکنالوژۍ د انتقال زمينه برابرول.

### ۲,۲,۱۰. د چاپېريال ساتنه

سالم او پایداره چاپېريال د هېواد د اقتصادي او ټولنيزې پایداره ودې او پراختيا لپاره اساسي رول لري. څرنګه چې د اسلام مبارک دين انسان ته د طبيعي سرچينو د ګټه اخيستنې او تسخير حق ورکړی، د هغو په ساتنه هم مکلف دی. د مناسب او سالم چاپېريال احياء او ساتنه د ټولنيزې رفاه، ښې ساحې او د حيواناتو او نباتاتو د بېلابېلو ډولونو د ساتنې او د اقليمي او چاپېريالي تغيراتو د کموالي سبب کېږي. د مناسب او سالم چاپېريال د رامنځ ته کولو په موخه عامه پوهاوی او د جامع پاليسيو او برنامو طرحه او تطبيق ضروري امر دی.
پرته له شکه په هېواد کې د سالم چاپېريال د احياء او ساتنې مسؤليت د يوې ادارې نه؛ بلکې د نړۍ د ټولو هېوادونو په شمول د افغانستان او سيمه ييزو او نړيوالو چاپېريال ساتنې سازمانونو ګډ مسؤليت دی. د سالم او مناسب چاپېريال د تامين او ساتنې په برخه کې اسلامي امارت لاندې اقدامات ترسره کوي:

- د چاپېريال ساتنې او اقليمي تغيراتو د عواملو د کنټرول په برخه کې د جامع پاليسيو او برنامو طرحه او تطبيق؛
- د هغو ماشين آلاتو او ترانسپورتي او نقليه وسايلو د مخنيوي په موخه د پاليسيو طرحه او تطبيق چې چاپېريال ککړ او تخريبوي؛
- د چاپېريال ساتنې معيارونو مطابق د اقتصادي او توليدي برنامو او پانګونو هڅونه او ملاتړ؛
- په اقتصادي، صنعتي او توليدي فعاليتونو کې د پايداره او نوي کېدو وړ انرژۍ د ګټه اخيستنې ډېرول؛
- د هېواد د اقتصادي ودې او پراختيا په بهير کې د ژوند د کيفيت د ښه والي په موخه د چاپېريال د پايداره ساتنې څخه ملاتړ؛
- د چاپېريال ساتنې د معيارونو او سټنډردونو په پام کې نيولو سره د طبيعي سرچينو د ګټې اخيستنې او پروسس څخه ملاتړ؛
- د ګل خانه يي ګازونو د خپرېدو کمښت، د هوا ککړتيا او خاوري او اوبو د ساتنې په موخه په هېواد کې د نيالګيو او زينتي ونو کښېنولو او ځنګلونو د ساتنې په برخه کې د پراخو برنامو په کار اچول؛
- د کثافاتو د راټولولو او پروسس لپاره د برنامو او پاليسيو طرحه او تطبيق؛

متوازن او هر اړخیزه انکشاف د ټولنې ټولو اقشار ته د ودې او پرمختګ زمینه برابروي، اقتصادي پراخ توپیرونه او ټولنیزې نابرابرۍ کموي او بالاخره اوسنیو او راتلونکو نسلونو ته غوره، باثباته او سوکاله راتلونکی رامنځته کوي.
د هېواد په اقتصادي او ټولنیزه وده او پراختیا کې د متوازن انکشاف اهمیت ته په پام اسلامي امارت لاندې کړنې او اقدامات ترسره کوي:

- د ټولنیز عدالت د ټینګښت په موخه د هدفمندو ټولنیزو او د کلیو پر پراختیا د متمرکزو ستراتیژیو، پالیسیو او پلانونو طرحه او پلي کول؛
- د هېواد د زیربناء او روبناء متوازن انکشاف؛
- په هېواد کې د ښوونیزو، تحصیلي، صحي او نورو خدماتي مرکزونو متوازن انکشاف؛
- په ناپرمختللو، لېرې پرتو سیمو او کلیو کې د پراختیا لپاره د زمینې برابرول؛
- په هېواد کې د متوازن کسب او کار، کوچنیو او متوسطو تشبثاتو ملاتړ او پراختیا؛
- د کورنیو د عوایدو د زیاتوالي لپاره د لاسي صنایعو څخه ملاتړ؛
- د بزګرانو ملاتړ او په کلیو او لېرې پرتو سیمو کې د کرنې سکتور عصري کول؛
- د مختلفو اقتصادي سکتورونو د متوازن انکشاف څخه ملاتړ؛
- د غوره عامه خدمتونو وړاندې کولو په موخه د امارتي ادارو متوازنه پیاوړتیا او پراختیا.

## ۲،۳،۲. د سرچینو اغېزمن او پایداره مدیریت

د منابعو اغېزمن او دوامداره مدیریت د هېواد په اقتصادي او ټولنیزه وده او توسعه کې اساسي رول لوبوي او د اوسنیو او راتلونکو نسلونو د هوساینې او رفاه عامل ګرځي.
له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د ټولو ستراتیژیو، پالیسیو او پراختیایي پروګرامونو په پلي کولو کې د سرچینو دوامداره او اغېزمن مدیریت او د ژوند چاپېریال ساتنې اصولو رعایت اړین ګڼي.
پورته یاد شویو موارد ته په پام د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د سرچینو د اغېزمن او پایداره مدیریت او ګټې اخیستنې په برخه کې لاندې کړنې او اقدامات په پام کې نیسي:

- د هېواد سرچینو د اغېزمن او پایداره مدیریت او ګټې اخیستنې لپاره د پالیسیو او پروګرامونو طرحه او پلي کول؛
- د طبیعي زېرمو د استخراج او پروسس په برخه کې د هېواد ټول چاپېریالي قوانین او مقررات په پام کې نیول؛

د افغانستان اسلامي امارت
د وزیرانو د اقتصادي معاونیت
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

افغانستان ډېر او ځوان بشري ځواک لري، چې د غوره حکومتولی، غوره خدمتونو وړاندې کولو، په تولیداتو کې د کمیت او کیفیت د لوړولو په موخه تخصص او لازمو ورځنیو مهارتونو او له عصري ټیکنالوژۍ سره بلدتیا ته اړتیا لري. د افغانستان اسلامي امارت د بشري منابعو د پراختیا او د غوره خدمتونو د وړاندې کولو په موخه لاندې اقدامات ترسره کوي:

- د ماهر او متخصص ځواک د ښوونې او روزنې لپاره د پانګونو هڅونه او جذب؛
- په هېواد کې د نویو معیارونو په بنسټ د ښوونیزو او تحصیلي زیربناوو پیاوړتیا او پراختیا؛
- د اسلامي او ملي ارزښتونو او معیارونو په پام کې نیولو سره د تعلیمي او تحصیلي نصاب معیاري کول؛
- د کاغذ پرانی پر ځای د نویو سیستمونو په کارولو سره د غوره عامه خدمتونو وړاندې کول؛
- په هېواد کې د سواد او زده کړو د کچې لوړولو څخه پراخ ملاتړ؛
- په ټول هېواد کې د ټولنیزو خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د اړتیا وړ انساني ځواک برابرول؛
- په مختلفو سکتورونو کې د بشري ځواک د مهارتونو او تخصص د کچې لوړول؛
- په ټولو امارتي ادارو کې د کارکوونکو د وظیفوي مصونیت رامنځته کول او ور څخه ملاتړ کول.

## ۲,۳,۵. د فقر کمول

په هېواد کې د فقر د کچې کمولو هڅه نه یوازې یوه اخلاقي او اسلامي وجیبه ده، بلکې د یو نظام په حیث د اسلامي امارت مسؤلیت هم ګڼل کېږي، ترڅو په هېواد کې د پانګونې د ښې زمینې په برابرولو سره د بې وزلی کچه را کمه کړي او د اوسنیو او راتلونکو نسلونو لپاره ښه راتلونکی تضمین کړي. د فقر کچې د کمولو په برخه کې د افغانستان اسلامي امارت لاندې اقدامات ترلاس لاندې لري:

**ــ د کاري فرصتونو رامنځته کول:** د کاري زمینې رامنځ ته کول، د فقر سره د مبارزې یو له مهمو عواملو څخه ګڼل کېږي. د کاري فرصتونو رامنځته کول؛ ستراتیژیو، پالیسیو او لنډمهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله پلانونو ته اړتیا لري. په دې برخه کې د افغانستان اسلامي امارت له لوري نیول شوي اقدامات له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ، د پانګونې او د کسب او کار لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کول، د اداري پروسو ساده کول، د کارموندنې د مشوقونو وړاندې کول، د ظرفیت جوړونې په پروګرامونو پانګونه او د بازار اړتیا ته په کتو د هېواد کاري ځواک په مهارتونو سمبالولو متمرکز دي. سربېره پر دې د افغانستان اسلامي امارت د کار موندنې او فقر په کمولو کې د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو د اهمیت په پام کې نیولو سره د خصوصي سکتور سره په همغږۍ د کاري فرصتونو رامنځته کولو او د فقر کچې کمولو په برخه کې مناسبې ستراتیژۍ او پلانونو طرحه او تطبیقوي.

د دولتي شرکتونو او خصوصي سکتور د فعالیتونو ترمنځ د تعادل د ایجاد په برخه کې د نړۍ د هېوادونو بریالیو تجربو ته په پام، د افغانستان اسلامي امارت د امارتي شرکتونو د اغېزمن مدیریت لپاره لاندې اقدامات تر لاس لاندې نیسي:

- د امارتي شرکتونو د رهبرۍ او چارو د تنظیم په موخه د پالیسي طرحه او تطبیق؛
- د ښایسته سالارۍ، شفافیت او ځواب ورکونې اصل له مخې د امارتي شرکتونو د رهبرۍ، مدیریت او د استخدام د بهیر ښه والی؛
- د امارتي شرکتونو د فعالیتونو توحید او انسجام؛
- د امارتي شرکتونو او خصوصي سکتور د ودې او پراختیا څخه ملاتړ؛
- د امارتي شرکتونو د اغېزمنتوب، شفافیت او ځواب ویني څخه ډاډ تر لاسه کول؛
- د اقتصادي ودې په مؤلدو ساحو کې د امارتي شرکتونو د فعالیتونو لپاره زمینه برابرول.

د افغانستان اسلامي امارت
Islamic Emirate of Afghanistan

# د افغانستان اقتصادي لومړیتوبونه

| شمېره | اقتصادي لومړیتوب | مسؤله اداره | همکارې ادارې |
|---|---|---|---|
| ۱ | د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د سیاسي او اقتصادي تعاملاتو بنه والی او پراختیا | د بهرنیو چارو وزارت او د مالیې وزارت | ټولې اړوند ادارې |
| ۲ | په هېواد کې د پانګه اچونې د پیل او پای په اړه د قوانینو او مقرراتو تعدیل او سمون:<br>۱. د خصوصي پانګه اچونې قانون<br>۲. د عامه او خصوصي مشارکت قانون<br>۳. د تکافل قانون<br>۴. د محدودالمسؤلیت شرکتونو قانون<br>۵. د سوداګریز حکمیت قانون<br>۶. د املاکو (مستغلات) تجارتي قراردادونو قانون<br>۷. پر عایداتو د مالیاتو قانون<br>۸. پر اضافي ارزښت د مالیاتو قانون<br>۹. د ګمرکاتو قانون<br>۱۰. د افغانستان د اسلامي بانکدارۍ قانون<br>۱۱. د افغانستان بانک قانون<br>۱۲. د کانونو قانون<br>۱۳. د نفت او ګازو قانون<br>۱۴. د کار قانون | مالیې وزارت، د صنعت او سوداګرۍ وزارت او اړوندې نورې ادارې او وزارتونه | اقتصادي معاونیت او عدلیې وزارت |
| ۳ | د خصوصي سکتور اړوند د ستراتیژیو او پالیسیو طرحه او ترتیب | د صنعت او سوداګرۍ وزارت | اقتصادي معاویت او عدلیې وزارت |
| ۴ | سیمه ییز اتصال | اقتصادي معاونیت، مالیې وزارت او د بهرنیو چارو وزارت | وزارتونه او اړوند ادارې |

د افغانستان اسلامي امارت
د رئیس الوزراء اقتصادي معاونیت
د اقتصادي کمیسیون دارالانشاء
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan